Government of Canada / Gouvernement du Canada

# مطبوعاتي اعلاميه

## د کاناډا سفير د اردر اف کاناډا عالي نښان ډاکتر سيما سمر ته ورکړ

د 2009 کال د سپتمبر 24 مه

په افغانستان کې د کاناډا سفير جلالتماب ويليم کروزبي نن د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون مشرې ته د اردر اف کاناډا (Order of Canada) عالي نښان ورکړ.

ميرمن سيما سمر د روان 2009 ميلادي کال د مى په مياشته کې د بشر د حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو په لاره کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د مشرې په توګه د هغې د نړيوال فعاليتونو څخه د ستاينې په خاطر د اردر اف کاناډا د افتخاري افسر په توګه وپيژندل شوه.

ښاغلي کروزبي وويل: " اردر اف کاناډا د هغو کسانو څخه ستاينه کوي، کوم چې خپل ژوند يې د خپلو ټولنو لپاره وقف کړى وي ، او د ټولنيزو ښه کارونو لپاره فعاليت کوي."

نوموړي وويل: " ډاکټر سمر د افغانانو او په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو د پراختيا او ښه والي لپاره د خپلي خو کلني ژمني په واسطه، په ريښتني توګه د اردر اف کاناډا د ماهيت او اصلي مفهوم څخه استازيتوب کوي. د دې خپل ژوند ته د خطرونو سره سره، ډاکټر سمر د افغاني نجونو او ښځو د حقونو څخه د دفاع په لاره کې د يوه نه ستړي کيدونکي غږ په توګه خپل فعاليتونو ته دوام ورکړى دى، ترڅو هغوى هم د نورو افغانانو په څير د ازادى څخه برخمن شي. "

ډاکټر سيما سمر وويل: " زه ډيره خوشحاله يم چې داسې يو عالي لقب يعني اردر اف کاناډا مې ترلاسه کړ، دغه وياړ پرته له شکه زما د هغو نارينه او ښځينه افغاني همکارانو دى، چې په زوررتيا سره په افغانستان کې د بشري حقونو، عدالت او ديموکراسۍ د ټينګښت لپاره مبارزه کوي، او زه دغه نښان هغوى ته وړاندې کوم."

اردر اف کاناډا چې په 1967 ميلادي کال کې رامنځته شوى، د ستاينه او د افتخاري نښان عالي سيستم دى چې د کاناډا د ټولني په ټولو سکتوررونو کې وړو کسانو څخه ستاينه کوي. د هغوى فعاليتونو بيلابيل دي، خو د نورو په ژوند کې يې ښه والى او په هيواد کې يې بدلون راوستي دى.

هر کال 220 تنه دغه عالي نښان ته ټاکل کيږي، چې پنځه تنه يې غير کاناډايان دي. په نورو افتخاري افسرانو کې نيلسن منديلا، اغا خان او بتروس بتروس ګالي هم شامل دي.

د اردر اف کاناډا په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، لاندنۍ ويبپاڼه وګورئ:
http://www.gg.ca/honours/nat-ord/oc/index_e.asp

Canada

په افغانستان کې د کاناډا د فعالیتونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، لاندنۍ ویبپاڼه وګورئ:
[www.afghanistan.gc.ca](http://www.afghanistan.gc.ca)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د لاندنۍ پتې سره په تماس کې شئ.

محمد ویس خطاب
د مطبوعاتي اړیکو مسوول
په افغانستان کې د کاناډا سفارت
٢٥٦ نمبر کور، د وزیراکبرخان ١٥ سړک - کابل ، افغانستان
ټیلیفون: ٠٠٩٣٠٧٩٩٧٤٢٨٢٤
موبایل: ٠٠٩٣٠٧٩٨٤٩٦٦٤١
بریښنالیک: [MohammadWais.Khetab@international.gc.ca](mailto:MohammadWais.Khetab@international.gc.ca)

Canada